محمد ایاز نوري ازادي

۲۰۱۶/۰۷/۱۷

د خپل پلار نه مې دا خاطري ليکم

د ښي خواء: زما پلار، مور، دري خوراني، څلور وروڼه او د کيڼي خواء دوهم کس، زه ليکوال. کابل د قلعچي سيمه د ايليو د ډنده سره متصل، عکس د ۱۳۴۸ ل کال څخه

يو کال او څلور مياشتي تحصيل په برتانوي هندوستان کښې

زما پلار ويل، د شاهي ګارډ نه د کابل حربيه مکتب ته چې تبديل شوم، څلور کاله هلته د ظابط صنف په توګه مې دندې ته دوام ورکړ. د ۱۳۲۶ل ـ ۱۹۴۶ز کال په پيل کې زه او يو شمېر نور زما همزولي افسران د دفاع وزارت په فيصله د «تکاملي کورس» تر نامه لاندې د هندوستان هيواد ته ولېږل شولو.زه هغه وخت لومړی بريدمن (بلوکمشر اول) وم. دري مياشتي مو د (فيروز پور) په پوځي مرکز، دري مياشتي د (سياګرد)، دري مياشتي د (ماهو) د ښار او دري مياشتي د کراچۍ د بندر د (مُنير)، دوه مياشتي د بمبۍ او دوه مياشتي د کوټې ښار په پوځي مرکزونو کې عسکري زده کړو، مشق او تمرين ته دوام ورکړ.زمونږ د تحصيل ټرون لا تکميل شوی نه وه، چې د ۱۳۲۶ل کال د اسد مياشت ـ اګست ۱۹۴۷ز کال کې، هندوستان خپله سياسي ازادي د انګريزي استعمار څخه تر لاسه کړله او نوی هيواد د پاکستان په نوم هم جوړ شو. دا وخت زمونږ مقر د کوټې د ښار په پوځي مرکز کې وه، چې د پاکستان اراضي ورسېده او د افغانستان او پاکستان د نوي دولت اړيکي د افغانستان د ضد موقف په اساس خراب شول او زمونږ تحصيلي پلان د ټاکلي وخت د پوره کېدو څخه د مخه د پاکستان اړونده مقاماتو ختم اعلان کړ او مونږ افغاني پوځي افسران يې په سوړ او سپک وضعيت د سپين بولدک د سرحدي بندر له لارې خپل افغانستان ته اصلاً راوشړلو.

زما پلار ويل، په اردو کې زما د ټول پوځي خدمت په بهير دا پراو ماته خوږ او په زړه پورې پاتې شو. دغه ۱۶ مياشتې زما لپاره يو موقع وه، چې د هندوستان خلک له نژدې نه ووينم. د هندوستان خلک آرام او نيک خلک ول.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

افغانانو سره يې يوه د زړه له کومې مينه ښودله. د دوی د نورو استعدادونو تر څنګ زه او زما راسره ملګرو ته مې په موزیک او سندرو ویلو کې د هغوی برلاسی ډېر د پام وړ وه. مونږ څو هندي د موسیقي کنسرتونو ته ولاړو. هغه وخت د هند لومړی درجه مشهور سندرغاړی (کوندنلعل سیګل) وه،چې پر خپلو خلکو ډېرګران وه او غږ او سندرې يې حقیقتاً جالبي وې. زما پلار ویل، یوه ورځ د کراچی د مُنیر په تعلیم ځای کې د پیاده وسلې د انداخت مسابقه جوړه شوله. زمونږ هندي استاذانو قصداً هدفونهٔ ډېر واړه او لرې درولي ول او هیڅ افسر زما څخه مخکې هدف ونشو ویشتلای. کله، چې زما وار راغی، ما پروت وکړ او ګوته مې په ماشه کېښوده او توکل الله مې وویل،د خپلې تجربې نه په استفادې مې نشان ونیو،او ډز مې اجراء کړ، د شه بخته نشان داسې دقیق لګېدلای وه، چې حتی مرکز د دایرې ویشتل شوی وه. د هندي استادانو غږ جګ شو او په تحسین يې ماته افغان افغان شاباس ویل.

د کندهار د ۱۳۳۸ل کال په پاڅون کښې

زما پلار ویل، په ۱۳۳۷ل کال مې د جګړن د رتبې څخه د ډګرمن رتبې ته ترفیع وکړله او د کندهار د قول اردو د ۲۰ لمبر پلې غند د مرستیال قوماندان په توګه مقرر شولم. هغه وخت جنرال خان محمد خان د قول اردو قوماندان وه. د ۱۳۳۸ل کال د قوس د میاشتې پیل وه او سردار محمد داود خان صدراعظم وه، چې مونږ افسران، د قول اردو قوماندان په عسکري کلوپ کې سره ټول کړلو او د شاهي دولت او حکومت فرمان يې د سم اسلامي حجاب په باب مونږ ته ابلاغ کړ. بیا يې هدایت راکړ، چې راتلونکې جمعه مازیګر به ټول افسران د خپلو خانمانو سره بدون د چادرۍ په معمولی ټکریو کې تشریف راوړي. هم هغه ټاکلې ورځ ټولو افسرانو دستور پر ځای کړ او جنرال خان محمد خان هم د خپلې خانمې سره هغه محفل ته راغی.
دا اعلان او د دولت فیصله د کندهار د والی او ښاروال له خواء هم د کندهار خلکو ته ابلاغ شوله او دفعتاً د چا له خواء کوم مخالف غبرګون را معلوم نشو. زما پلار ویل، د قوس د میاشتې ۲۸ د شنبې ورځ وه. (زه لیکونکی هم په همدې ورځ د سهار په لسو بجو دې جنجالي نړۍ ته راغلی یم)، سهار اته بجې زه وظیفې ته لاړم. پس له نیم ساعت څخه زمونږ قوماندان غند ماته هدایت راکړ، چې زه محاربوي دریشي واغوندم، چې په ښار کې یو تعداد مخربین د ټولیدو په حال کې دي او د رفع حجاب پر ضد د حکومت د تصمیم خلاف ناري وهي. د پیاده غند ټول افراد تیار سی شول او مونږ سره د ټانګ کنډک هم ښار طرف ته حرکت وکړ. کله، چې هغه ټاکلې ساحې ته ورسیدو. موضع ګاني مو ونیولې. هلته به زمونږ په سل متري واټن کې د څلور سوه کسانو په شمېر کندهاریان سره ټول شوي ول. دوی سره لرګي او سوتي لاس کې ول او ورو ورو د اردو د موضعګانو خواته رانژدې کیدل. په دې وخت لومړی د پوځ له خواء هوایي ډزې پیل شولې، لیکن مظاهره کوونکو پروا نه کوله او په یوه پیاده ټولې مخامخ په حمله راغلل، او په دغه کش و ګیر کې دوه میله ټوپک کندهاریانو زمونږ د عسکرو نه قبضه او وتښتول، همداء وه، چې د اردو له خوا هم ډزې پر دوی بیل شوې. په دې اثنا کې د پیاده غندِ قوماندان د ټانګ کنډک ته د (اوربل بل!) امر ورکړ. زما پلار ویل، ما د ټانګ د کنډک قوماندان ته ناري کړې، چې (اور بند!) یعنی اوس د ټانګ د توپ او ورسره ماشیندار نه فیر ته ضرورت نشته.. بیا قوماندان د غندِ ماته وویل، چې معاون صاحب ته زما امر نه منې؟ ما ورته وویل، زه ستاسو امر منم، لیکن که د ټانګ کنډک ډزې پیل کړي، ډېر خلک تباه او وژل کیږي او زه د دې کار پلوی نه یم .بلاخره زما پر کلک اسرار د بلواء تر پایه د ټانګ کنډک فیر ونکړ .د حکومت غبرګون هغه ورځ د بلواګرو پر ضد نسبتاً شدید وه. هغه ورځ د جنګ تر پایه د مړو او ټپیانو شمیر به د پنځوسو کسانو په اټکل کې وه.
زما پلار ویل، مونږ ته پس له دې عملیاتو د بیرته قشلې ته د رجعت امر وشو او قطعات بیرته د قول اردو مقر ته راستانه شول. په سبا يې مرکز کابل ته راپورونه جوړ شول. او پس له دوو اونیو نتایج بیرته د دولت له خواء مونږ ته ابلاغ شول. زما پلار ویل، زه د دې پاڅون په ارتباط د خپل جګ آمر د امر څخه په تمرد له خپلې وظیفې منفک او کابل ته وغوښتل شوم او جزائي د دفاع وزارت د احتیاطو په بست کې واچول شولم. البته اعلیحضرت ظاهرشاه او صدراعظم داود خان ته زما په هکله داسې ذهنیت هم ورکول شوی وه، چې ګویا د پیاده غندِ معاون ډګرمن نورالله خان د امر نه په تمرد اصلاً د بلواګرو پلوي کړې ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

البته زه ليکونکی بايد دلته په صداقت سره ووايم،چې زما پلار يو منور مسلمان او د بڼځو د حقوقو او د هيواد د ترقي کلک پلوی او د خرافاتو او چادري اغوستلو سخت مخالف کس وه.

ځلور کاله جزائي د احتياط په بست کښې

زما پلار ويل، د ۱۳۳۸ ل کال نه تر ۱۳۴۲ل کال پوري د دفاع وزارت د احتياطو په بست کې پاتې شولم. په همدی کال زما د اردو ډېر راته صميمي ملګری مې تورن جنرال نيک محمد خان (منګل) د دفاع وزارت د ديوان حرب رئيس مقرر شو. زه يې خپل دفتر ته وروغوښتلم او راته يې وويل، د کندهار د بلوا په مسله کې تا سره بې عدالتي شوې ده، اوس ستا آرزو کومه ده، زه حاضر يم تا سره هر ډول همدردي وکړم؟ زما پلار ويل، ما فرقه مشر صاحب ته وويل، زه هيڅ آرزو نلرم، خپل تقاعد غواړم او دغه حاکم خاندان او پاچا سره هم له پخواء ځخه کومه علاقه نلرم. ليکن هغه ټينګار کاوه، چې نه، ته بايد نور هم اردو کې پاتې شې. زما پلار ويل، ما ريس صاحب ته وويل، نو که همدغه ديوان حرب کې مې د ځان سره مقرر کوې، درسره خوشال يم او کنه زه قطعاتو ته نه ځم. ريس صاحب وويل، بس زه به دې د خپل مرستيال په حيث ستا وړاندیز د دفاع وزير ته يوسم او ته بايد د ډګروال رتبې ته ترفيع هم وکړې. زما پلار ويل، هم هغه د جنرال صاحب منګل د خلوص په نتيجه کې زه هم هغه کال د هغه مرستيال مقرر او د استقلال په جشن کې مې يوه رتبه ترفيع هم منظوره شوله او تر ۱۳۴۹ل کال پوري، چې خپل تقاعد مې له افغان اردو ځخه واخيست، په همدغه دنده کې پاتې شوم.

د شاغلي محمد هاشم ميوندوال د دعوت رد کول

دلته زما مشر ورور ما ليکونکي ته داسې وويل:؛؛دا د ۴۰ لسيزې وروستي کلونه ول، هغه وخت زمونږ کور کابل کې وه. د مازديګر وخت وه، چې زمونږ د پلار يو مسلکي دوست ډګروال محمد نجيم خان آريا زمونږ کور ته راغی او ما د ميلمه کوتې ته پذيرايي کړ، بيا زمونږ پلار ورته راغی. آريا صاحب زمونږ پلار ته وويل، چې ميوند وال صاحب غواړي ستا سره له نژدې ووينې او درسره خبرې لري...! زمونږ پلار ورته وويل، زه پوی شوم، ميوند وال صاحب ته زما سلام ورسوه او ورته ووايه، چې ته د دې حاکم شاهي کور يو جګ پوړی او ورته نژدې اعتمادي کس پاتې شوی يې. اوس اعليحضرت ظاهرشاه اساسي قانون جوړ کړی او دولت يې مشروطه شاهي نومولې ده، ليکن دا هر څه د موضوع ظاهري بڼه ده. زه دا پاچا او خاندان په ټولو مشخصاتو کافي پېژنم. دا هرڅه، چې زمونږ د هيواد ټولواک د ديموکراسي په نوم د افغانستان خلکو ته ورمعرفي کوي، محض درواغ او د خلکو بوخت ساتل دي. د سياسي ګوندونو قانون په هغه اصلي آزادي يې موجود نه دئ. دلته دا ملت هم په ګډه وړی او فکر جاهل ساتل شوی دئ. دا اعليحضرت او زوم يې سردار ولي دي، چې همداء اوس هم کل اختيار دي. بناً که ته ميوند وال صاحب، غواړي مستقل سياسي کار او فعاليت وکړی، دا مجال حاکم خاندان تاته نه درکوي، نو زه نه غواړم په مقيد ډول تا سره کا ر وکړم. هغه وه، چې اريا صاحب ناهيلی بيرته زمونږ له پلار نه ولاړ.،،

د داود خان د کودتا په باب زما د پلار نظر

کله، چې ۱۳۵۲ل کال د سرطان د مياشتې په ۲۶ محمد داود خان د عسکري حرکت په ذريعه قدرت ونيو، زما پلار خوشال وه او داود خان يې نسبت ظاهر خان ته د وطن د ترقي لپاره يو شه انکشاف بولله. زما ليکونکي په ياد دي، د داود خان د جمهوريت خصوصاً د وروستيو کلونو پر وخت به زمونږ کور ته د خپلوان، دوست او آشنا په نوم کافي خلک زما پلار ته راتلل. په هغوی کې داسې خلقيان او پرچميان هم ول، چې داود خان به يې تخريب کاوه او بيا د ثور د کودتا نه پس لوی لوی خلک مقرر شول. زما پلار به ټولو دوستانو ته ويل، ګوری، د داود خان سره همکاري وکړئ. داود خان پخپل تره زوی ظاهر خان کودتا کړې او قدرت يې ورنه اخستی، يعنی داود خان پر ظاهر خان يو سياسي داوطلبي کړې ده او پخوانی پاچا لا اوس هم ژوندی او په ايټاليا کې پروت دئ، نو تاسو اطمينان ولری، چې داود خان حتماً د افغانستان د آبادي لپاره د زړه د کومې لګيا ده کار کوي، داود خان د اوسني تاريخي بهير يو شه غنيمت او مشهور کس ده، نو تاسو مخلصانه ورسره اوږه ورکړئ، چې دا زمونږ ښکلی وطن آباد او خلک آرام شي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د نورمحمد تره کي سره د ليدو نه قبولول

زما پلار ويل، دا د محمد داود خان د جمهوريت وروستي کلونه ول، يوه ورځ زما خپلوان شاغلی فقير محمد (فقير) ،،د ثور د کودتا نه پس د انقلابي شوراء د دفتر ريس او د حفيظ الله امين د قدرت پر وخت د هغه د کورنيو چارو وزير،، زما سره په کابل کي وليدل او راته يي وويل، چې مونږ لګيا يو، د افغانستان د ترقي لپاره مبارزه کوو او نور محمد تره کی زمونږ مشر دە، راځه، چې تا تره کي صاحب ته ورمعرفي کړم! ما ورته وويل، د افغانستان خلک اسلامي عقيده لري، هغه لار چې تره کي صاحب پرې روان دە، زمونږ خلکو ته د قبول وړ نه دە، بناً زه نه غواړم تره کي صاحب ووينم.

د پخواني ولسمشر ببرک کارمل په هکله

زما پلار ويل، د ببرک کارمل پلار جنرال محمد حسين خان زما د خدمت په بهير کې زما يو صميمي آمر پاتي شوی وه او شه عسکري قوماندان هم وه. د شاهي دولت وروستي کلونه ول، يوه ورځ زما يو مسلکي دوست راته وويل، راځه د جنرال حسين خان يو احوال واخلو، زمونږ او تاسو آمر وه. بيا د کابل د نوي ښار سيمه کي د هغه کور ته ورغلو. جنرال ډېر خوښ شو او چای راته تقديم کړ او پخواني يادونه مو سره تازه کړل. زما هغه بل ملګري ورته وويل:،، قوماندان صاحب، بچه ها و اولادها چطور هستند؟ يو وار جنرال خپل ښی لاس جګ کړ او په غضب يې ويل:،، مه ببرکه آق کديم، مه ببرکه آق کديم... او ګپ مرا نمی شنود...!!،. کله، چې د حسين خان نه رخصت شولو، ما خپل ملګري ته وويل، حسين خان خو د خپل زوی نه ډېر خفه دە، دا ولې؟ ملګري ويل، دغه اوس، چې د کابل ښار کي د دولت پر ضد مظاهري کيږي، يو مشر يې همدغه د حسين خان زوی دە، دئ د شورويانو سره هم شه اړيکي لري. زما پلار ويل، کله چې د ثور کودتا وشوله او تره کی ولسمشر او ببرک کارمل مې دوهم دولتي کس وليد، نو ماته هغه د حسين خان خفګان د خپل زوی نه مخته راتللوو او دا تشويش مې کولو، چې اوس به د دې بد بخته ملت حال او راتلونکي په کومه خواء ځي...؟ .!

د افغان وسله وال جهاد او زما د پلار موقف

کله، چې د ثور کودتا واقع شوله، زما پلار حيران او خفه وه. مونږ زامنو ته به يې نصيحت کاوه، چې دغه راغلي وضعيت او حکومت سره احتياط کوی او د زړه له کومې ځان مه ورکوی، نور دا افغانستان زمونږ وطن دە، هم دلته به ژوند کوو او څوک چې د قدرت او مشرتوب شوق او دعواء کوي، هم هغسې به خدای او ولس ته جواب هم وايي. په ۱۳۶۱ل کال کي زما پلار د کابل څخه خپل پلارني کلي خوست ته کوچ وکړ او هلته د خپل ورور ملک حميد الله خان سره يې ژوند کاوه او د ۱۳۶۲ل کال د اسد په مياشت کي هغه وخت چې شوروي يرغلګر د ببرک کارمل په سروالي پر افغانستان په زور حکومت چلولو د خوست د مندوزيو قام په ټول کي د هجرت لور ته مخه کړله او د شمالي وزيرستان د ميرانشاه ښار کي يې واړول .
زما پلار ويل، هلته زه او زما ورور د) حرکت) تنظيم ته چې مولوي محمد نبي (محمدي) يې مشري کوله وردعوت شولو. څو مياشتې مې د مشاور او مرستيال په توګه هلته کار ورسره وکړ، ليکن ما هلته وليدل، چې دغه جهاد او مبارزه چې افغانان د خپل هيواد د آزادي لپاره کوي، اصلي لارښوونه يې د پاکستان د دولت او خصوصاً د ای، اس، آی د استخباراتي سازمان سره دە او ما به تل مخلصو افغانانو ته ويل، چې زه عالم الغيب نه يم، ليکن دغه د آزادي جهاد د غربيانو په پيسو او د پاکستان د دولت په سرپرستي... دا جهاد به حتماً په منحرف مسير کي ځي او بری به بيا زمونږ د هيواد د دشمنانو وي. زما پلار ويل، هغه وخت د مولوي محمدي په ګډون دا خبره چا نه منله، يا يې نه درک کوله، ليکن پس له لس کالو او بيا کله، چې د نجيب حکومت ساقط شو، موضوع بالکل ثبوت شوله، چې پردي د خدای په رضا زمونږ د جهاد مرستندويان نه ول، هغوی خپل ټاکلي مقاصد لرل. بناً زه له پيله د دغو حوادثو نه بيزاراو ګوښه خوښوونکی وم.

وروستی خبره

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه دە ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

درنو افغانانو! منظور او مقصد د دې خاطرو د ليکلو څخه زمونږ د ګران افغانستان د اوسني ډېر خواشينونکي وضعيت د علتونو څېړل دي. هغه کسان، چې د ماضي څخه منکرېږي او يا ورنه ځان تيروي، هغوی پخپلو بوټونو کې ښکه لري. همداء ماضي ده، چې نن مونږ ته جوړوي.
زما پلار به ويل، د افغانستان په معاصر تاريخ کې، اعليحضرت غازي امير امان الله خان د افغانستان د خلکو لپاره يو نادر د نجات او ژغورنې چانس وه، ليکن د انګريزانو او د کورنيو خاينانو او د افغانستان د خلکو د غفلت او ناپوهي له کبله هغه مونږ ته ډېر مفيد ملي مشر، مونږ له لاسه ورکړ. زما پلار د شاهي حاکميت په آخري کلونو کې ويل، له دفاع وزارت (محمود خان پُل)، نه چې مازديګر د خپل بايسکل سره د کور قلعچې په لور راروان شم، د تاريخي بالاحصار تر کنج پورې زما پزې ته د انساني فُضله بوی راځي، پس له هغه بيا د مرغاويو د ډنډ بوی پيل شي، په دې پايتخت کې يو ګيلاس شودې نه پيدا کېږي، يو ګيلاس صحي اوبه د ښار هر اوسېدونکي ته مهيا نه دي، د سيلو وچه ډوډی هر چا ته نه رسېږي... دا زمونږ پلازمينه ده او دا زمونږ شاهي دولت دئ او دا زمونږ ټولواک دئ...؟!. . زما پلار ويل، څلور کاله نادر شاه، ۴۰ کاله يې زوی ظاهر خان او ۵ کاله داودخان له دې نه ۴۹ کاله يا د نيمې پېړی دولتي حاکميت جوړېږي، چې دغه خاندان پر مونږ افغانانو تر سره کړ او نتيجه يې د ۱۳۵۷ ل کال د ثور بربادونکي کودتا شوله.
په دې ترتيب دا خاندان، کمونيستان او اخوانيان د ملت او خدای په محکمه کې لوی مسوولیت پرغاړه لري .

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ